﴿ ۱۷ ﴾

# شېرشاه سوري

د غور په تاريخ کي سوريان يوه ډېره قديمه کورنۍ وه، چي د اسلام په اولو کلو کې دلته مشرتوب درلوډ، او دوي غالباً له هغي قبيلي سره اړه لري چي تر اوسه ئې هم زوري بولي، او د لوړ خراسان زورآباد دوي ته منسوب وُ، او دغه قبيله په لوړ خراسان او غور کي خپره وه او نوم ئې هم په تاريخ کي ډيري قديمي ريښې لري.

له دغي قبيلي څخه ځيني کورنۍ د غوري سلطانانو د فتوحاتو سره د ۶۰۰ ﻫ په حدودو کي د پښتونخوا شرقي پلو او د کسي غره لمنو ته تللي، او هم له دې ځايه څخه چي په هندي اصطلاح ئې اوه باله په ټول هند کي خپاره سوي وه.

کله چي تر غلجي پښتنو وروسته په هند کي د پښتنو د سلطنت او عظمت بيرغ لوديانو پورته کی، نو ډېر سوريان د دوي په لښکرو او اداري دستگاه کي وو، لکه چي د سلطان بهلول لودي په سلطنت کي ابراهيم خان سور د خپل زوی حسن خان سره له افغانستانه هندوستان ته ولاړ، او د لوديانو د سلطنت په مامورينو کي شامل سول. حسن خان چي يو پښتون غښتلی ځوان او تکړه سپاهي وُ، د خان اعظم عمر خان سرواني سره نوکر سو، چي د سلطان بهلول لودي صدراعظم وُ، کلهٔ چي سلطان



سکندر لودي په ۸۹۴ ﻫ کي پر تخت کښېنوست حسن خان سور ددغه دربار يو لوی سړی وُ، چي د شاهي حضوره و ده ته د سهسرام جاگيرداري ورکړه سوه او هورې ساکن سو.

د ده په اتو زامنو کي يو فريد خان نومېدی چي وروسته دې سړي د پښتنو او هند په تاريخ کښي ځان ته د يوه لوی مصلح او غښتلي مدبر پادشاه په ډول ځان ورکی.

د فريد خان ولادت د ۸۸۴ - ۸۸۶ تر منځ په دغه سهسرام کي واقع سوی او د پښتنو پر رواياتو برابر د پښتني کورنۍ په ماحول کي لوی سوی او لکه خپل پلار د لوديانو په سلطنت کي لوړو درجو ته رسېدلی دی.

ځکه چي تر ۹۳۰ ﻫ وروسته د پښتنو لوديانو سلطنت د بابرشاه د حملو په سبب ضعيف سو، او بهادر خان لواني په بهار کښي خپل مستقل سلطنت اعلان کی، نو دغه لواني پادشاه فريد خان هم لوړي درجي ته ورساوه او د شېرخان لقب ئې ورکی.

په ۹۳۲ ﻫ بابرشاه له افغانستانه پر هند باندي حمله وکړه پښتون بادشاه سلطان ابراهيم لودي د پاني پت پر ډگر کي وواژه او دهلي ئي ونيوی، او د پښتنو د درو سوو کالو پادشاهي ئې په هند کي ختمه کړه.

فريد خان چي اوس په شېرخان مشهور سوی وُ، د پښتنو د تاريخ دغه غمناکه ډرامه ئې په هند کي په سترگو وليدله، او دا ئې حس کړه چي تاريخ په هند کي د پښتنو د بيا لوړولو او سلطنت گټلو وظيفه ده ته سپارلې ده. شېرخان اوس په هند کي د پښتنو مشر او جنگيالی سپه سالار وُ، ده ليدل چي د لودي کورنۍ عظمت او د پښتنو پرتم او جلال د

نفاق او خانه جنګۍ په سبب ختم سوی وُ، او بابر چې له فرغانې څخه راغلی شهزاده وُ د پښتنو د نفاق په برکت ئې ددوی پادشاهي او موروث سلطنت نيولی وُ. شېرخان ليدل که دغه سره پاشل سوي پښتانه بېرته راټول کړل سي، دوی کولای سي چې په هند کې د غلجيانو او غوريانو او لوديانو عظمت بيا ژوندی کی، دا کار پخپله شېرخان انجام کی، او پښتانه ئې په هند کې سره راغونډ کړل. بابر د ډهلي تر نيولو پنځه کاله وروسته په ۹۳۷ هـ مړ سو، او زوی ئې همايون پر ځای کښېنوست. دلته نو شېرخان خپله توره وځلوله اول ئې د بهار علاقه ونيوله، بيا ئې بنګالې تسخير کی، او په ډېرو جنګو کې همايون ته شکستونه ورکړه، او شرقي شمالي هند ئې ټول ونيوی. دلته نو شېرخان د اويا زرو سپرو او پياده افغاني لښکرو سپه سالار وُ، چې پنځه سوه فيله ئې هم درلودل مګر د همايون لښکر تر يو لك هم زيات وه، ده چې به د خپلو لښکرو لپاره عسکري استحکامات جوړول، پخپله به ئې هم يوم او کلنګ اخيستل او د عامو لښکرو په ډول به ئې کار ورسره کاوه، په ۹۴۵ هـ چې د شېرخان او همايون لښکر د ګنګا پر غاره سره مخامخ سول، نو همايون ملا محمد د سفير په ډول شېرخان ته راواستاوه او د روغي پيشنهاد ئې وکی، ملا محمد چې د شېرخان لښکرګاه ته راغی وې ليدل چې شېرخان د دفاعي خندق په کيندلو کې د خپلو عسکرو سره مشغول وُ او کلنګ ئې واهه خو هورې پر مځکه کښېنوست او د همايون له ايلچي سره ئې خبري شروع کړې. د همايون او شېرخان مهم جنګ په ۹ د صفری ۹۴۶ هـ د ګنګا په سيمه کې واقع سو، او د پښتنو او د همايون لښکرو سخت سره و ځغېړل، حاجي بېګم د همايون مايينه هم د شېرخان د لښکرو په لاس کښې ګرفتاره سوه همايون سخت شکست



وخوړ او شېرخان دغه ملکه په ډېر احترام د اهتاس په کلا کې مېلمنه وساتله.

تردې برې وروسته خان اعظم مسند عالی عمر خان سرواني او مسند عالی عيسی خان سرواني چې د پښتنو مشران وه شېرخان ته رايه ورکړه چې د پښتنو پر موروث تخت باندې کښېني نو ځکه دلته اوس فريدخان او شېرخان د "شاه عالم شېرشاه " په نامه وبلل سو، او خطبه او سکه هم دده په نامه جاري سوه، او پښتنو په دې خوشحالي کې اوه ورځې جشن وکی. اوس نو شېرشاه سوري د نيم هند مستقل پادشاه سو او د افغاني سلطنت په تنظيم ئې لاس پوري کی.

همايون بيا ځان جنګ ته تيار کی او د قنوج په سيمه کې د ګنګا په څنډو د شېرشاه سره مخامخ سو، شېرشاه پنځوس زره سپاره لښکر ميدان ته راوستل مګر د همايون لښکر دوه چنده وُ، او په دې جنګ کښې د ۹۴۷ هـ د محرمې په مياشت قطعي شکست وخوړ، او د سند له لارې ايران ته ولاړ اوس نو ټول هند له بنګاله تر اباسينده د شېرشاه سوري تر سلطنت لاندې سو.

شېرشاه وليدل چې همايون ولاړ او خپله مَلکه حاجي بېګم ئې ده ته پرېښوه، نو کله چې ده ته يقين حاصل سو چې همايون د هند له خاورو څخه وتلی دی، شېرشاه خپلې مېلمنې حاجي بېګم ته ئې وويل:

" زما او د همايون تر منځ فيصله په توره کيږي، مګر ته د پښتنو مېلمنه ئې، اوس به دې په ډېر احترام خپل مېړه ته رسوو. ابوالفضل مؤرخ په اکبر نامه کښې وايي : " شيرخا ن آن عصمت قباب را درکمال صيانت و پرده پوشي په آبرو تمام روانه ساخت." شېرشاه په خپل سلطنت کښې ټول هند سره متحد کی او دا ئې ثابته کړه چې پښتانه

يوازې عسکري قوت نه لري، بلکې د اداري او تنظيم او مدنيت په چارو کې هم تکړه دي. د شېرشاه اداري او سياسي او مدني تنظيمات په هند کې مشهور دي، ده د ملکي انتظام لپاره د ماليې اصول او دفاتر مقرر کړه هر ځای ئې د مسافرانو لپاره رباطونه او مسافرخانې جوړې کړې، د جرائمو د انسداد لپاره ئې قوانين طرح کړل عدالت او انصاف ئې په کامل ډول خپور کی، رعايا ئې له خپل زامن او ورونه ګڼل، د هر چا دادرسي ئې کوله، وقايع نګارانو د ټول هند په احوال دی خبراوه، د عدالت محاکم ئې مقرر کړي وه، عسکري نظام ئې خورا ټينګ و، هرځای ئې کافي عسکر او عسکري قرارګاهونه درلودل، او په ټول هند کې تقريباً دوه لکه پياده او سپاره سپاهيان او پنځه زره جنګي فيلان لرله، د لښکرګاهونو پر تعميراتو علاوه ډيرې کلاوې او ښارونه ده بناء کړل. لارې ئې جوړې کړې، له کلکتې څخه تر پېښوره شېرشاهي سړك ده تيار کی، چې هر ځای ئې د مسافرانو لپاره سرايونه، د اوبو څاهان او د راحت وسايل درلودل. او د مؤرخانو په اتفاق هغه حکومتي نظام چې شېرشاه په هند کې جاري کی، د آينده مغولو او حتی د انګرېزانو لپاره هم په هند کې د کار او اداري پخوانی پروګرام و، او دوی هغه شېرشاهي نظام تعقيباوه.

شېرشاه په جهانداری کې لوړ نظر درلود، د ده مقصد يوازې د هند اصلاح نه وه، بلکې موحجانې فکر ئې د بشريت د سمون لپاره درلود، مير رفيع الدين محدث دده د دربار لوی عالم و، چې د حج اراده ئې وکړه او د شېرشاه له حضوره ئې رخصت غوښت شېرشاه ورته وويل : " زما اراده دا ده چې د هندوستان تر اصلاح وروسته تر ايرانه ټولې مځکې ونيسم، او بيا تا د سفير په ډول د عثماني سلطان دربار ته واستوم، چې افغاني او عثماني سلطنتونه د ټولي ايشيا د اتحاد لپاره له بنګاله تر



استانبوله په ګډه کار وکړي او په حرمينو کې يو مشترك مرکز جوړ کړو، او د ايشيا څخه فتنه او فساد ورك کو." مؤرخان د شېرشاه لوړ همت او تدبير او شخصي صفتونه ستايي، د سلاطين افغانيه مؤرخ داسې ليکي : " در نيك ذاتي و صفات حميده و عقل و تدبير ملك ګيري و جهانداري کم همتا بود. در خصوص به قوم افاغنه نظيري نداشت. و در رفاه عام آسودګي خلايق همت بسيار مي ګماشت در محکمه عدالت خويش و بيګانه را بيك نظر ميديد."

شېرشاه به ويل : که کفر وي که اسلام، دواړه عدالت ته ضرورت لري، د رعيتو مقدرات خودغرضو او رشوت خورو حاکمانو ته سپارل د ملك بربادي ده او سلطنت فقط د عدالت په برکت باقي پاتيږي. ظلم او غفلت د شاهانو لومړني دښمنان دي، لوی سړي هغه دي چې تل په کار مشغول وي. شېرشاه په خورا قوت او موفقيت ټول هند تر خپل سلطنت لاندې د سمون او لوړتيا پر لوري رهي کی او نوري لويې ارادې ئې هم درلودې. مګر متاسفانه دغه لوی او مدنيت پرور پادشاه د کالنجر په فتحه کې د سرنګ الوزولو په عسکري عمليانو کې سخت زخمي سو، او په لسمه د ربيع الاول ۹۵۲ هـ له دغي صدمې څخه مړ سو د ده د مرګ تاريخ داسې نظم سوی دی : (۱)

شيرشاهي که از مهابت او
شيرو بز آب را بهم ميخورد
چون برفت از جهان بدار بقا
ګشت تاريخ او ز آتش مرد

(۱) ژوندون مجله د ۱۳۴۷ لمريز کال د لرم ۱۷ مه نېټه ۳۴ مه ګڼه ۱۲ _ ۱۳ مخونه